# په سکرمنتو ښار کې افغانانو لپاره د ملاتړ مرکز کې
# ټولنیزوسرچینو ته د لاسرسي برنامه

دا وړیا برنامه د افغان کورنیو او متحدینو لپاره ځانګړې شوې ده. موږ یو شمېر مهربانه ټولنیز او ځایي مرسته رسونکې مؤسسې او بنسټونه سره راټول کړي دي ترڅو په متحده ایالاتو کې د ثبات او دایمي ژوند د سفر په ترڅ کښې له تاسو سره مرسته او ملاتړ وکړي. تاسو به دا فرصت ولرئ چې له باوري غیر انتفاعي بنسټونو او له کلتوري لحاظه برابر مرسته کوونکو سره د مهمو موضوعاتو لکه د استوګنې مرسته، د کار موندنې فرصتونه، روغتیایي خدماتو ته لاسرسی، حقوقي سرچینې، د انګلیسي ژبې د زده کړې ټولګي(ESL) ، او مالي لارښوونې په اړه خبرې وکړئ. د غونډې په ترڅ کې ستاسو د ښه راغلاست او کره مکالمې لپاره ژباړونکي شتون لري.

**یادښت:** مهرباني وکړئ په یاو ولرئ چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالی اداري یا(USCIS) استازي پدې غونډه کې ګډون نکوي. ترڅو د مهاجرت اړوند خدمات لکه د ګرین کارت پروسس، د پناه غوښتنې  یا اسایلم غوښتنلیکونه، یا د کار جواز په اړه ستاسې پوښتنو ته ځواب وړاندې کړي.

---

### ځای: د سیف کرېډیت یونین کانوینشن سنټر

### پته: 1401 K Street, Sacramento, CA 95814

**نېټه : د ۲۰۲۵ زېږدیز کال دمې میاشتې له ۵-۹**
دوشنبه، د مې میاشتې ۵ دسهار ۱۰ بجو څخه دماښام تر۷ بجو
سه‌شنبه، د مې میاشتې ۶ دسهار ۱۰ بجو څخه دماښام تر۷ بجو
چهارشنبه، د مې میاشتې ۷ دسهار ۱۰ بجو څخه دماښام تر۷ بجو
پنجشنبه، د مې میاشتې ۸ دسهار ۱۰ بجو څخه دماښام تر۷ بجو
جمـــعه، د مې میاشتې ۹ دسهار ۱۰ بجو څخه دماښام تر۵ بجو

**لاندې مرستې او منابع په (وړیا) توګه وړاندې کیږي.**

- د سوشیل سېکیوریټي اداره.
- دکډوالۍاړوندحقوقي مرستې.
- د بیا مېشتدنې مرسندویه مؤسسې.
- د کور یا سر پناه اړوند مرستې.
- کډوالو لپاره د کارموندنې مرستې.
- عامه مرستې (کلورکس، آر سي اِې، کلفرېش، میدیکل، اوداسې نور).
- د کور او ښاري پراختیا اداره.
- روغتیایې مرستې.
- د خوراکي موادو مرستې.
- لویانو لپاره تعلیم/زده‌کړو مرستې.
- د رواني/دماغي سلامتیا سرچینې.
- د انګریزي ژبې د زده کړې سرچینې.

- د پښتو او دري ژبو ژباړونکي.
- د اودس او لمونځ لپاره ځای.
- ماشومانو لپاره دلوبو/تفریح ځای.
- د موټرو وړیا پارکینګ.
- د ترانسپورت یا تګ او راتګ آسانتیاوې. هیله ده دې مرکز ته د راتګ لپاره خپل ترانسپورټي غوښتنې له دغو جزییاتو سره (آدرس، تیلیفون شمېره، د لویانو او ماشومانو تعداد، د راتلو نېټه او وخت) د مې میاشتې تر دوهمې نېټې لاندې برېښنالیکنو/ایمیل‌آدرسونو ته ولیږی.
sara.kane@cherokee-federal.com یا michaelr.nelson@cherokee-federal.com

**د کلفورنیا د کډاولو دفتر د متحدینو د ښه راغلاست اړوند افغانانو لپاره د ملاتړ مرکزونو کوربه‌توب کوي. د کلفورنیا د کډاولو دفتر د هیڅ یوه مرسته‌رسونکې مؤسسې ملاتړ نکوي او د مرسته رسونکو مؤسسو لخوا د چمتو شوي خدماتو په اړه هېڅ ډول ښکیلتیا او مسؤلیت په غاړه نلري.**

CDSS
CALIFORNIA
Department of Social Services